مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۱۰/۱۱

# مابنامی مجلس

## (۳۵)




میلمه پر یوه تشي لاس ایښی و او حجرې ته راننوت. سم له واره وغځېده او بیا یې ویل: د ګُردو له درده دې خدای وساته! زبېښلي رنګ ته یې سخت خپه شوم. پیاله مې ور ډکه کړه، ما ویل اوریدلي مې دي چې ګردو ته مایعات ښه دي؛ د جوس او ښوروا دې یاد په خیر وي، اوس به په همدې یو ډول مایعاتو (چای) ګوزاره کوو.

له جیبه یې یو پلاستیک راوویست، پلاستیک له کاغذونو ډک و او دا د مختلفو ډاکټرانو نسخې وې، دومره ډیرې وې چې مکوه پوښتنه. ما ویل دا دې ټولې خوړلي؟

ــ هو

ــ بیا خو دې ګیډه سمه د درملو عمده فروشي ده.

ــ هههه، څه وکړم، لاچاري ده. دوه درې ډوله معاینات راته وکړي، پنډ دوا راکړي؛ یو څو ورځې دردونه ارام شي، بیرته شدید شي. دا تجاران دي سر...

ــ عجیبه ده، کار د ډاکتر دی او ښیرا سوداګرو ته کوې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ـ ډیر خدای ناترسه دي، د خپلي ګټي لپاره بې کیفیته درمل واردوي. هیڅ ورسره دا فکر نه وي چي د ګټي لپاره یې بېوسه ناروغان څومره دردونه ګالي.

ـ کومه بله خوا به تللی وی.

ـ چیرته لاړ شم؟ کوم دی د تګ وس. باور به دې ونشي؛ یو دوه ځلي تر تورخمه لاړم، داسي یو حالت و چي په ما یې خپل دردونه هېر کړل. سری خپه شي چي په دی ۲۱ مه، پیړی کي موږ څومره بدبخته او څومره له بنیادي اسانتیاوو محروم خلک یوو. د میراني، قهرماني، لرغوني تاریخ لاپي شاپي مو ګوره او بیا مو ژوند ته ګوره چي زموږ په مخکي زیږیدلي هیواد ته هم محتاج یوو. اخر دې جذباتو او قهرمانیو موږ ته څه راکړل؟

ـ غلی وم. کله مې د میلمه بد وضعیت ته کتل او کله د خپل وطن مجبوریتونو ته او بیا د بې لومړیتوبه حکامو فکرونو په مخه کړی وم.

ـ میلمه بیا لکه ټپي مار، له درده تاو راتاو شو: موږ پخوا هم همداسي وو؟ همدومره محتاج وو؟

ـ نه، نه، ... دا د جګړو شومه پایله ده. دا د خپلمنځي دښمنیو پایله ده. له سپیرو جګړو پخوا موږ کابل کي د هوخیست په نوم آن د جرمني په معیار درمل تولیدول. بیلابیلي معیاري فابریکي مو درلودې. هیڅاته اړتیا نه وه چي بیرون علاج ته لاړ شي. که د شاهي دورې کیسه درته وکړم او له اوسني دور سره یې پرتله کړې نو په ژړا به شي.

ـ میلمه راوړاندي شو. خپله او زما دواړه پیالي یې تازه کړې او بیا یې ویل: کیسه کوه، ولې دې نیمایي کي پرېښوده؟ شاهي دوره کي څه خبره وه؟

ـ سترګي مي وچي کړې: ۱۹۶۴ کال و، پاچا خان له بنده ازاد شوی و. هغه، د زندان سختیو ناروغ کړی و. د درملني لپاره لندن ته لاړه. دا وخت لندن کي محمد کبیر لودین زموږ سفیر و .د ارواښاد محمد ظاهر لخوا سفیر ته دنده وسپارل شوه چي پاچا خان کابل ته دعوت کړي او همدلته یې علاج وکړي. هغه راغی، د کابل په وزیر اکبرخان کي بستر شو او رګ روغ شو.

میلمه ته مي وکتل، له سترګو یې نری ـ نری اوښکي راروانې وې. ما ویل که د ګردې درد پسي اخیستی. په منډه کور ته لاړم او په دستپاک کي تاوه کړې توده خښته مي راوړه. د میلمه په ګېډه مي کېښوده. هغه په ډکو سترګو راوکتل او بیا یې ویل:

ـ دا درد د ګردو نه دی. دا درد د خپل ګران وطن د ماضي دی. څه په بې رحمیو مو هر څه وران کړل او څه په ټیټو سترګو مو ځان د هر چا محتاج کړ. ښه راته یاد شي، همدا هوخیست... او نور یې داسي چیغه کړه، ما ویل که له ګردې یې غټ کاڼی مثاني ته راښکته شو.

ـ ور وړاندې شوم؛ خو هغه په اشاره پوه کړم چي پرېږده مي. ښه یې وژړل. ما ویل: و انډیواله! نفس دي راوویست، دا څه درباندې وشول؟

ـ میلمه تر ډېره غلی و. ورو ـ ورو یې ژړل او بیا یې ځان کنترول کړ. سهار وختي مو له لغمانه میني بوس کي حرکت وکړ. پر کنډ و کپر سرک راروان شوو. مازیګر مهال پلچرخي ته راورسیدو. ځای ځای ودانۍ نسکوري پرتي وې. دولتي تاسیسات نړیدلي ول. پر یوه لوحه مي سترګي ولګیدې، همدا (هوخیست) پرې لیکل شوی و. لوګي تري پورته کیدل، دیوالونه یې سوري ـ سوري وو، ان دا کوچنۍ لوحه هم څو مرمۍ لګیدلي وه.... دې تنظیمي ډایناسورانو لکه چي د وطن د ورانولو پروژه په ټیکه اخیستي وه. هر څه یې نړول. دې قهرمانانو موږ ډیر احتیاج کړو او دا احتیاجي لا دوام لري.

ښه شیبه دواړه غلي وو. پیاله مي پورته کړه، خو دومره مي لاسونه سست وو چي نږدې به راځني چپه شوې وه. میلمه هم بې ځُرته و. اخر یې سکوت مات کړ:

موږ به بیا نیمه پیړۍ پخواني دور ته وګرځو؟ بیا به هماغه شان معیاري تولیدات ولرو؟ بیا به...

ما ویل ګوره، هیڅ شی ناممکن نه دي. موږ بیا پر خپلو پښو دریدلی شو. خو پرمختګ تصادفي نه وي. مختلف فکتورونه یو ځای کیږي او پرمختګ رامنځته کوي، دا ځنځیري شکل لري. هغه وخت چي موږ خپل معیاري تولیدات لرل او طبابت مو مخکي و، نو کابل پوهنتون کي خارجي استادان په تدریس او د ګڼو هیوادونو خارجي محصلین هم



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په زده کړو بوخت وو. دې پوهنتون نړیوال معیار درلود. هغه وخت د تېرو شلو کلونو په څیر د ډالرو باران هم نه و. که دا پیسې هغه وخت وای، وطن به اوس له مصرفي حالته په تولیدي حالت بدل و. د جمهوریت ډایناسورانو خو په ډالرو داخل او خارج کې شخصي ماڼۍ جوړې کړې، د قیمتي موټرو کلیکسونونه یې جوړ کړل، بیروني بانکونه یې ډک کړل او...

میلمه، پیاله کېښوده. یو لاس یې پر تشي کېښود او بل پر دیواله. په خوارۍ پورته شو او بیا یې ویل: پخواني معیارونه پرېږده، پوهنتونونه به کله شروع شي؟

ما ویل زه څه خبر یم؛ خو مسوولین وایي : ډېر ژر او دا هم وایي چې په نصاب او طرزالعمل کار روان دی. نو کېدای شي چې دا متخصصین یې بېرته پخواني معیار ته برابر کړي.

میلمه ترخه موسکا وکړه او په کاواکه ګامونو له حجرې ووت.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ